DAILY
# اراده
دافغان نشراتي مرکزملي خپلواکه ورځپانه
سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ ش

سال ششم شماره ۱۲۴
شماره مسلسل ۹۹۱
چهارشنبه ۲۰ ثور ۱۳۸۵ هـ. ش
۱۱ ربیع الثاني ۱۴۲۷ هـ ق
10 May, 2006

PROPERTY OF ACKU
AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER
A.M.R.C
ACKU

### حامدکرزی:
## وزراء باید دارایی های شانرا ثبت نمایند

شماری از کارشناسان سیاسی کشور درمورد حکم آقای حامدکرزی درباره ثبت دارایی ها وملکیت های شخصی وزراء میگویند که بنابر مشکلات درنظام اداری کشور چنین احکام عملی نمیشوند ، اما برخی دیگر از کارشناسان برین باور هستند که مقامات دولتی بربنیاد قانون امتیازات برتر ویژه یی نسبت به مردم عادی ندارند.درنخستین جلسه وزیران کابینه که برگزار شد حامدکرزی رئیس جمهور کشور ازوزیران کابینهء جدید خواست تا دارایی ها وملکیت های شخصی شان را ثبت نمایند.رئیس جمهور کشور گفت که این کار بمنظور شفافیت بیشتر درکار کابینه باید انجام شود تا راه برای قضاوت مردم باز باشد.همچنان آقای کرزی از وزیران کابینه خواسته است تا ازسوء استفاده ودست برد به دارایی های عامه خود داری نمایند وتلاش کنند تا با اجرای فعالیت های مؤثر شان درآبادی کشور سهمی داشته باشند.

### سرمقاله
وګړي او ښځينګې خداي په نامه

## ملت کسانی را که از اعتماد آنان استفادهء ناجایز میکند، سزاوارنمایندگی اش نمیداند

شورای ملی خانه ملت است. آنانیکه به حیث نمایندگان مردم به اینجا آمده اند. برای آن آمده اند که ازیک ملت ویران شده . غارت شده . تاراج شده و جنگزده نمایندگی کنند. از ملتی نمایندگی کنند که هنوز دودهایش به آسمان بالاست وفریاد گرسنگان وبرهنگانش خاموش نشده است. خانهء ملت جای تشریفات کذایی، جای تصفیه حسابهای شخصی وجای بستن اتهامات وجای برائت گرفتن ومحکوم کردن نیست خانهء ملت جای حل وفصل وتصمیم گیری مسایل ومعضلات سیاسی واقتصادی کشور است.

جای تأسف وتعجب است که بیماری ساری بی اداره گی وتخلف پذیری از سایر ادارات به شورا منتقل شده است.

مردم به اشخاصی به نام نماینده رأی دادند که اداره را اصلاح کنند و ازتخلفاتش جلوگیری کنند. حالا شورا خود تخلف میکند و نیاز به اصلاح دارد.

وارد ساختن اتهامات ودشنامها براشخاص که دردی را دوا نمیکند . تهدیدها ودادن فحشن وناسزاهای بازاری، بوتل بازی وچپلک کاری نیز دستآورد دموکراسی نیم بند وتحمیل شده براشخاصی است که ازآنان اکت دموکراسی خواسته شده است .

**وکلای محترم!**

شما باید بدانید که از قاطبهء ملت افغانستان نمایندگی میکنید. شما باید مظهر وحدت ویکپارچگی ملت باشید!

شما که با امتیازات فوق العاده برکرسی شورا تکیه زده اید، برای آنست که برای ترقی وپیشرفت کشور وتفاهم وتجانس ملت کار کنید!

بزرگی وتوانایی شما در این، نیست که شما کی هستید وچه کارهایی را انجام داده اید، بزرگواری، وتوانایی شما دراین است که چقدر میتوانید دردهای بیدرمان ملت را دوا کنید!

ص۴

## قتل یک صراف درهرات

افرادمسلح ناشناس درولایت هرات یک صراف را به ضرب گلوله از پا درآوردند.

گفته میشود این صراف هنگامی ازسوی سه موتر سایکل سوار به قتل رسید که ازمحل کارش به سوی خانه درحرکت بود به گفته سمنوال نثار احمد پیکار مدیر مبارزه با جرایم جنایی قوماندانی امنیه این فرد که خیر محمد نام دارد شب گذشته وقتی ترور شد که ازمحل کارش بطرف خانه درحرکت بود.

مسوولین امنیتی انگیزه این قتل را سرقت پول های این صراف بیان نمودند. این درحالیست که چهار روز قبل نیز افراد مسلح ناشناس موترسایکل سوار یک قالین فروش را در ولایت هرات در محضر عام به ضرب گلوله به قتل رساندند.

## وکیلان په خپلو منځو کی یو بل ته ګواښونه کوی!

دسه شنبې په ورځ دولسي جرګې په ناسته کی داجندا سره سم دستره محکمې دچارواکو په تحصیلی اسناد وباندې بحث روان و.

لادغه بحثونه پای ته نه ورسیدلی چې دجرګې د دوو تنو غړو عبدالسلام قاضي زاده او میرمن صدیقی مبارزترمنځ داسلام دسپکاوی په سرلفظي شخړه وشوه.

دوردګو دوکیلې میرمن صدیقی مبارز په خبره دهرات دخلکو وکیل قاضي زاده نوموړې ته ګواښ کړي چې برخه لیك به دی دملالی جویا په څیرشي.



په جرګه کې د ښکیلو دغو وکیلانو دخبروله اوریدو سره سم دجرګې ډیری ښځینه وکیلانی له غونډې څخه داعتراض په توګه ووتې اودجرګی له مشرتابه څخه یې وغوښتل چې نور ښځو ته ورته ګواښونه په وړاندې زغم نلري . دوی داهم ویل که له دوی سره ورته چلند دوام وکړي نوښځینه وکیلان یې به تولې په یو وار له جرګی څخه دتل لپاره ووځي. ۴مخ

## د امریکایانوپه بریدکې ۴ تنه پکتیکاکې وژل شوي

په هیواد کې د امریکایي پوځ یو ویاند ویلی چې د یو هوایی برید په ترځ کې یې د پاکستان پولې ته نږدې اود جنوبی وزیرستان په یو کیلومتری کې د پکتیکا په برمل ولسوالی کې د القاعده او طالبانو ۴ تنه شکمن کسان وژلي اوورسته یې پلې پوځ سیمه کې یو تن شکمن کس ژوندی نیولی دی.دغه هوایی برید د دوشنبې په ورځ تر سره شوی دی د پاکستان خصوصی تلویزیون (جیو) د یورپوټ په خپرولو سره ویلی چې د پاکستان شمال د هیواد پولې ته نږدې د انګورو اډه کې د امریکایي چورلکو د هوایی برید له امله ۸ تنه لادرکه او ۳ تنه ټپیان شوي دي . ټپیان د وانه روغتون ته لیږدول شوي.

## یوبل ښوونځی ته هم اورواچول شو

تیره شپه دخوست دښار په لویدیزه برخه کې ددوه مندیو په ولسوالي کې یوښوونځي ته اوراچول شوی دی.په دغه پیښه کې دښوونځي خیمې. کتابونه. خوکی . میزاو داسې نور تول سوزیدلې دی.ددوه مندو ولسوال سید احمدخان ویلي دی چې دپیښې دعاملینو دنیولو لپاره یې عملیات پیل کړی خوتر اوسه یې څوك ددغې پیښې په تړاونه دی نیولې.تردی وړاندې دخوست ښار په لویدیزه برخه کې دڅدرانودزني خیلو په سیمه کې هم یولوموړني ښوونځي ته نامعلومو کسانو اور ورته کړی و. خو ویل کیږي چې امنیتي مسوولینو تردی دمه دهغې پیښې عاملین هم نه دی نیولي.



## په یوه چاودنه کې دوه ټپیان

په غزنی ولایت کې دبمي چاودنی له امله دیوی بهرنی موسسې دوه ساتونکی ټپیان شوی دی.دچارواکو په وینا دیو ساتونکی روغتیایي حالت داندیښنې وړښودل شوی دی.دغو ساتونکو دسړك جوړونی یوه بهرنی کمپنی ته کارکاوه.چارواکی وایي چاودنه دریموت کنترول په واسطه هغه مهال شوی چې ساتونکی دموټر په منځ کې وو.چارواکو دغه پیښه دوطن ددښمنانو پرغاړه اچولې ده.

## ادامه خشونت علیه معارف

یک معلم ازسوی افراد ناشناس درولسوالی جوره ولایت زابل مورد لت وکوب قرارگرفت وکتاب های چند شاگرد این مکتب نیز ازسوی این افراد سوزانیده شد. معاون تدریسی این ولایت درتماس به رسانه ها افراد طالبان را عامل این رویداد خوانده است.

## سږ کال به شپږ سوه زره کډوال هیوادته راستانه شی

په افغانستان کې دکډوالو نړیوالې اداره یا UNHCR وایي چې دسږکال له پیل څخه تراوسه نږدې ۴۰۰۰۰ افغان کډوال خپل هیواد ته راستانه شوی دی. یاده شوی اداره وایي زیاتره راستانه شوی کډوال له پاکستانه راغلي چې دکډوالو دنړیوالې ادارې له لوریې مرستې ترلاسه کړې دي. ۴مخ

## ولی دوسلو تولولو او سرکاري کولو بهیر پخ روان دی؟

(۴)مخ

# ولی دوسلو ټولولو او سرکاري کولو بهیر پڅ روان دی؟

**نادر**

له کوم وخت څخه چې زموږ په هیواد کې دبهرنیو شوموا هدافو دسرته رسیدوپه خاطر دجګړو اورونه بل شوی دی دجګړو دوارو لوریوته دوخت عصری وسلی او چاودیدونکی مواد دوژلو او ورانولو لپاره په واك کی ورکړل شوی دی زموږ په هیواد کی دمجاهدینو دواکمنی په لومړی دوره کې دکمزوری څارنی او کنترول له امله دهیواد په هره سیمه کې نه یوازی داچې دولتی شتمنی چور شوی بلکی دپوځی جزوتامو وسله کوټونه هم تالاوالا شوی څه یی پاکستان کی وپلورل شول او څه یی دهیواد په دننه کې دقوماندانانو په واك کی ورکړل شول.

دیوه قوماندان له خولی چې اوس په حق رسیدلی داخبره لیکم هغه یوه ورځ دخبرو په وخت وویل چې یوازې ماچې دخپل تنظیم یو وړوکی سرګروپ وم ۱۵۰ خلی می په داټسن موټر کی وسلی پیښور ته رسولی اوهلت می پلورلی دی یوازی ما دیوه روغتون ۱۶ چپرکتونه پدی پلمه چی روغتون ته نوی راوړو کورته وړی دی.

دده په څیر ډیرو داکار کړی خو اوس اصلی ستونزه داده چی زموږ هیواد له وسلو څخه ډك دی. دوسلو ټولولو دواړه پروګرامونه په خپل کار کې بریالی نشو بللای. ځکه چی زموږ په هیواد کې څلور کاله وشول چی دطالبانو واکمنی پای ته رسیدلی ده خودخلوروکلونو په موده کې لاتر اوسه پوری ۱۰% وسله هم ټوله شوی نه ده قوماندانانو سره وسلی شته او عامو خلکو سره خفیفی وسلی موجود دی او کومی وسلی چی دایك ته سپاری هغه هم زنګ ووهلی له خاورو رااېستل شوی دی چی دا ډول وسلی دهغوی په درد نه خوري.

دغو خورو ورو وسلو شته والی او پټوګرامونو له امله ده چي دهیواد په بیلابیلو سیوکې قوماندانان دخپلو ګټو ددفاع او ساتلو په خاطر جنګیږی او پردی زامن پکی وژنی.

دهیواد په هره سیمه کی په سلونو او زرونو وسلی په پټه موجود دی چی کله ناکله دداسې نښتو په نتیجه کی را ښکاره او استفاده تری کیږي.

دداسې وسلو در لودونکی دخپلو وسلو په شته والی حکه ټینګرکوي چی که چیری یی شخص ګټی په خطر کی شي ددولت په وړاندی دخپل ځان دمطرح کولو او یا خودخپلو لاس په نامه کسانو پواسطه دغلا او داړو دکولو په خاطر تری استفاده وکړي.

لاتراوسه پوری زموږ په اطرافوکې غیر مسوول وسله وال قوماندانان په سوونو کسان وسله وال کړي چی دامنیت په خرابوالی کې یې پوره ګواښونه را منځته کړی کړي.

تراوسه پوری په هیواد کی ۱۸۰۰ نا قانونه وسله والی ډلی موجود دی چی وسلی ورسره دی او خپلی وسلی یی نه دی سپارلی.

ستونزه داده چی دوسلو په ټولولوکی به ترڅو داحرکت پڅ روان وي.

دطالبانو دواکمنی په وخت کې به که چیری له هر چا سره وسله ولیدل شوه هغه به په زور اخیستل کیده دپیښو په صورت کې به کورونه اوکلی تالاشی کیدل چایو ډز نشو کولای اوس چی قانونی واکمنی ده دولت کمزوری دی

دکمزوری دولت په شته والی کې به قنون په ځمکه پروت وي او سراسری امن به دخرابیدو په لوری روان وي چی زموږ دهیواد په هره سیمه کې همدا اوس نه یوازی دتخریبی عناصرو له خوا دامن خرابیدل وینو بلکی دخورو ورو وسلو شته والی هم دامن په خرابیدوکې ستری منفی نتیجی را منځته کړی دی چی تښتونی غلاوی او وژنی یی ستری بیلګی دی.

# ایا زموږ کاني زیرمې کشف شوي دي؟

**عبدالطیف " منت یار"**

هغه هیواد چې کاني زیرمې نه لري نو اقتصادي هم اوبلن او کمزوري وي اونه شي کولای چې په اوبلن اقتصادباندي دژوندانه غوښتنو ته ځوابونه ووایي: افغانستان نظر نورو هیوادونوته دکاني موادوزیاتي زیرمی لري چې دڅو کالو را په دیخوا ورته هیڅ ډول پاملرنه نه ده شوی او زیاتو وطنوالو په شخصي توګه خپلي خیتی پرې ډکې کړی دی. زموږ په ګران هیواد کې په نفتی مواد و او غازاتو سربیره زیات غرونه په قیمتی کانو لکه یاقوت. زمرود. لاجورد وباندی ډك دی چې ددې په څنګ کې. اوسپنه مس. زموږ د مهموزیرمو څخه شمیرل کیږی چې له نیکه مرغه په دی شپو ورځو کې زموږ دهیواد په شمال کې دافغانستان دکانوا وصنایعو دوزارت او دامریکی دځمکی دپیژندنې دیوه شرکت له خوا دا په ډاګه شوی چې دشمال په یوه سیمه کې (۴۴۴) میلیارده مکعب ګاز او دیونیم میلیاردونه دزیاتو بوشکو نفت لیدل شوی چې دامو په سیمه کې دافغانستان او تاجکستان دپولی په څنګ کې موقعیت لري. دکانوا وصنایعو دوزارت مسوول ویلي دي چې د دغو زیرمو دکشف او څرګندونی چارې دافغانانو اوامریکایی کارپیژندونکو دګډو هلوځلو دکارنتیجه ده. ده زیاته کړی چې دی ته ورته هلي ځلی . دهرات . فراه . جوزجان او بدخشان په ولایتونوکې هم روانې دی. خو داچې اوس زموږ ګران هیواد دبیا ابادی په حال کې دی په لومړی قدم کې باید په بیړنی توګه ددغو کانی مواد ویه راسپړلو لاس پوری شی ترڅو له دی لاری نه زموږ ورځینې ضرورتونه په هیواد کې دننه ترلاسه شي . او دبهرنیو هیوادونو دتورید نه مولاسونه رالنډ شي دا ځکه چې همدغه اوس چې زموږ هیواد د بیا ودانی په لور ګامونه پورته کوی دیولیترو نفتو بیه تر دیرشو افغانیو. او دیو کیلوګاز بیه تر څلویښتو افغانیو او دیوی خلتی سمنتو بیه دڅلورسوونه زیاتو افغانیو ته پورته شوی دی چې زموږ بیوزلو هیواد والوته یی زیاتي اقتصادي ستونزی راپیداکړی دی. دافغانستان داسلامي جمهوریت دولت اړونده څانګی او په ځانګړی توګه دکانواو صنایعو وزارت دنده لري چې په مسوولیت سره کار وکړی او دخپلو طبعی زیرمو په راسپړلو همدغه اوس لاس پوری کړی ترڅو ددغو توکو په برابر ولو باندی په ځان متکي پاتي شو او د پردیو هیواد ونوله توریډ څخه مولاسونه رالنډ شي.

که څه هم په اوس وخت کې دغوری سمنتو او دهرات دسمنتو تولیدی چاروته پاملرنه شوی ده خودغه تولیدات زموږ ورځینو ضرورتونه ته ځواب نه شی ورکولی. داچي نفتی مواد . ګاز اوسمنټ زموږ دخلکو ورځنی ضرورتونه تشکیلوی نوبیاخو په کار داده چی په بیړنیو هلو ځلو لاس پوری شي او دغه ضرورتونه زموږ په هیواد کې دننه ترلاسه شي یعني دتولید اندازه یی دنورو هیوادونو په کچه لا زیاته شی.

اوسپنه مس. اوپاره یې دزیاتو ضروری توکو په ډله کې ځای لری چې دزیات ضرورت احساس ورته کیږی که څه هم دجنګ نه په مخکی کلونو کې د "لوګر" دمسو زیرمی راپیړل شوی وی خوکله چې زموږ په هیواد کې دجنګ لمبی پورته شوی له دغو مسونه هم ناوړه ګټی ترلاسه شوی او دشخصي غرضونو نه قربان شوی او اوس په کار داده چې دبهرنیو مرستونه پرځای ګټی ترلاسه شي او ددغه اقتصادي توکو په داسپړلو سره دغرض مخه ونیول شی.

داځکه چې همدغه نن زموږ هیواد دبیارغاونی په حال کې دی او دکانی مواد ورا سپړلو ته موسترګی په لاره دی او بلله داده چې په دی برخه کې متین او ګړندی ګامونه پورته شی اوله دی لاری نه دهیواد اقتصاد پیاوړی او پر خپلو پښو ودریږی.

# قوای مسلح نیرومند واستخبارات آگاه ضامن استقلال وتمامیت ارضی

بعد ازشکست نیروهای مهاجم وعقب نشینی آنها ازخاک افغانستان امنیت هر روز از روز قبل بهتر شده میرود وبا تأسف بعضی از کشور های همسایه به عوض اینکه درتحکیم امنیت مارا کمک وزخم های مردم افغانستان را مرحم گذارند کمافی سابق از مداخله سریع در اموداخلی کشور ما دست بردار نیستند وآنچه درتوان وقدرت دارند ازکشتن هموطنان ما دریغ نورزیده زخم خونین مارا خونینتر میسازند. وضع امنیتی را بخاطر رسیدن به اهداف سیاسی واقتصادی خویش اخلال وذهنیت جهان را نسبت بوضع امنیتی کشور ما مغشوش می سازند این تلاشهای مذبوحانه جریان دارد ، تحرکات حراس افگنانه بخاطر ایجاد وحشت دربین مردم ولایات جنوب. جنوب شرق وغرب نشان دهندهء این مدعاست یکی ازاهداف اساسی شبکه های استخباراتی وجاسوسی بیگانه بمنظور سازمان دهی عملیات تخریبکارانه مداخله مستقیم درامور داخلی کشور دامن زدن اختلافات قومی، لسانی ، مذهبی، سمتی وگروهی دربین مردم است . حمایه ازتولید، صدور وقاچاق مواد مخدر اختطاف اطفال، بی نظمی ،سرقت های مسلحانه پایان آوردن حیثیت و اتوریته کشور ومردم کشور درسطح ملی وبین المللی پلان اصلی آنها را تشکیل میدهد قابل یادآوریست که بعضی از هموطنان عزیز غیرآگاهانه وحتی احساس هم کرده نمیتوانند که دربند شبکه های جاسوسی بیگانه درگیرمانده اند از نام ووجود آنها بهره برداری میگردد، دراین مورد فهم ودرک استخباراتی قوت های موجود وکار دلسوزانه استخباراتی درخور اهمیت است. میتوان با هماهنگی نیروهای امنیتی تحت قومانده واحد پلان های خرابکارانهء دشمنان را خنثی ونیروهای جاسوسی آنها را درهم کوبید.

سالها است که شبکه های جاسوسی واستخباراتی وحامیان آنها با درنظر داشت وضعیت نابسامان کشور بدون ترس وتشویش باهمه امکانات مصروف پلان گذاری اهداف سیاسی واقتصادی بخاطر اجرای عملیات تخریبکارانه درکشور عزیز ما حضور داشته اند .

مبارزه علیه پلان های تروریستی واستخباراتی وجلوگیری از آن کار ساده و آسان نخواهد بود نباید خود را فریب داد وصرفاً به شعارها وگفتن مرگ باین وآن اکتفاء کرد بلکه ضرورت مبرم به کار استخباراتی پیگیر میباشد.

ترور شخصیت های ملی درحقیقت تجاوز به عزت وحیثیت هر افغان و پایمال نمودن حقوق یک ملت بزرگ است حوصله مندی بیشتر درحقیقت تیشه زدن بریشه خود است ظلم وستم بحق این ملت مظلوم بوده میتواند. ترور شخصیت های مردمی برای هیچ کس قابل قبول نیست تحت هر نام که باشد.

بنأ ایجاب مینماید افراد تحصیل کرده آگاه صادق وبا تجربه که هرگز فریب جواسیس ودشمنان وطن را نمیخورند سالها درین بخش ها کارکرده اند وبه شیوهء کاری وفعالیت این شبکه ها تجارب عملی دارند ومیتوانند همزمان به کارمندان جوان بخش ها همکاری نمایند اعضای ارگانهای امنیتی دوباره تنظیم شوند تا قوای مسلح نیرومند واستخبارات که بتواند دسایس دشمنان را بوقت وزمان خنثی واز حاکمیت ملی وتمامیت ارضی کشور قاطعانه دفاع نمایند تشکیل گردد.

یکبار دیگر تاکید میگردد جنگ که اکنون جریان دارد یک جنگ تمام اعیار وکاملاً استخباراتی است کار کشفی واستخباراتی میتواند کلید و راه حل این پرابلم باشد.

چطور میتوان قوای مسلح را بدون موجودیت قوای هوائی نامش را قوای مسلح مطمئن نامید.درحالیکه قوای هوائی رکن اساسی قوای مسلح یکشور را تشکیل میدهد، اکنون قوای هوائی تحت صفر قرار دارد. عدهء زیادی افسران هوائی بیکار گردیده اند وعدهء که درقطعات خویش موجود اند وسایط هوائی در دسترس ندارند واگر موجود باشد کاملاً ناچیز است .

با رفع نمودن نواقص وکمبودهای موجود در ارگانهای قوای مسلح واستخبارات میتوان شرایط موجود را به نفع خویش تغییر داد.

یکبار دیگر از هموطنان عزیزی که آگاهانه ویا غیر آگاهانه علیه مردم خویش قرار گرفته اند تقاضا بعمل میآید که آغوش وطن وهموطن بروی تان باز است دیگر نگذارید که دشمنان وطن . پدر. مادر. خواهران وبرادران شما را قتل نمایند مکاتب ومدارس شما را آتش زنند دروازه های علم را بروی فرزندان تان به بندند وطن شما را ویرانتر سازند وطن . وطن مشترک همه افغانها است وطن بمثابه مادر آبرو و حیثیت هر افغان است خلاصه درهمچو شرایط یگانه روزنهء امید برای ملت قوای مسلح نیرومند واستخبارات آگاه ومتعهد است . آنچه درتوان وقدرت دولت است اکمال وتجهیز گردد.

که چنین قوت مطمئن میتواند باعث افتخار وسربلندی کشور گردد. ودرغیر آن شعارها وضعیت موجود را بغرنجتر ومحصول آن جزیأس ونا امیدی چیزی دیگری بوده نیمتواند. «سعید سروری»

متصدی صفحه : بشیرنذیر

# ورزش ضامن تندرستی

## په کندزکې دکرکت لوبې ترسره شوې



دکرکت هغه سیالۍ چې پنځه ورځې وړاندې دشمال دولایتونو دشپږو لوبډلو ترمنځ په کندز کې ترسره شوې دسیالیو په لومړۍ ورځ دجوزجان ولایت دیو سلو اولسو امتیازونوپه ترلاسه کولو سره پربدخشان بری ومونډ په همدې ډول دسیالیوپه دوهم ورځ دکندز ولایت دهمدرد کلپ لوبډلې دیوسلو پنځه دیرشوامتیازونو په ترلاسه کولو سره دبغلان منتخبې لوبډلې ته یې ماته ورکړه او همدا راز دسیالیو په دریمه ورځ کندز دبلخ ولایت دلوبډلې په وړاندې بری ترلاسه کړ دسیالیو په څلورمه ورځ دکندز ولایت دهمدرد لوبډلې دسمنګانو دلوبډلې سره لوبه وکړه اوبیاهم بری دهمدرد لوبډلې په برخه شو او دسیالیو په پنځمه ورځ په لوبه کې دجوزجان ولایت لوبډله دکندز په وړاندې ماته شوه ددغو سیالیو په پای لوبه کې دکندز منتخبې لوبډلې دیوسلوڅلور څلویښتو امتیازونو په ترلاسه کولو سره بری ترلاسه کړ

## داریا دباسکتبال تیم لومړی مقام وګاټه

دفتح دجام دباسکتبال دسیالیو لومړی مقام داریا دباسکتبال لوبډلې خپل کړ دغه سیالۍ دهرات ولایت دباسکتبال په لوبغالي کې ترسره شوې چې دهغه ولایت شپږو غوره لوبډلو پکې ګډون کړی وو ددغه جام په سیالیو کې اریا او ارش دیوبل په وړاندې دسلګونوننداړچیانو په منځ کې دلوبوډګرته ووتل چې دسیالیو په پایله کې اریا خپل سیال ته ماته ورکړه او ددغو سیالیو لومړی ځای یې خپل کړ دهرات ولایت دباسکتبال د فدراسیون انجینیر قاسم وویل چې دغه سیالۍ د باسکتبال دسپورټ دپراختیا او ودې په موخ پیل شوې وې چې په پایله کې دشپږو لوبډلو څخه اریا لومړی. ارش دوهم او پامیر دریم ځایونه خپل کړل که څه هم دباسکتبال دفدراسیون او ددغه سپورت دمینه والو په وړاندې ګڼې ستونځې شته خوویل کیږي چې ددغه فدراسیون مسوولینو دستونزو دله منځه وړلو په برخه کې هیڅ ډول اقدام ندی کړی

## تدویر مسابقات دوش در کندهار

بیش از یکصد ورزشکار وعلاقمندان ورزش دوش در ولایت کندهار دریک مسابقه اشتراک کردند که هدف ازآن تقویت روحیه ورزش میان جوانان بود این مسابقه به روز یکشنبه هفته جاری برگذار شد وبگفته مسئوولان اداره ورزش درآن ولایت یکصدو پنجاه تن جوانان آن اشتراک کرده بودند وفاصله پنج کیلومتر از منطقه چونی الی زیارت بابا ولی را پیمودند برخی از اشتراک کننده گان این مسابقه گفته اند که پس از سالها جنگ و نا امنی ها دراین ولایت اشتراک جوانان مژده خوبی برای تقویت روحیه بین جوانان به شمار میرود این مسابقه به ابتکار اداره دولتی سپورت وشرکت خصوصی اتحاد پیروز به راه انداخته شده بود که دراخیر برای سی برنده اصلی این مسابقه به ارزش سی هزار افغانی جوایز وتحایف داده شد .

## تیم های خوست وکندز به مصاف هم رفتند

مسابقات فوتبال میان تیم های فوتبال ولایت خوست وولایت کندز روز پنجشنبه درمیدان سپورتی شاروالی شهر کندز انجام شد دراین مسابقه درکنار هزاران تن ازشهریان کندز عده یی از اعضای سازمان های اجتماعی و فرهنگی ولایت خوست دریک کاروان ایکه بنام کاروان صلح از آنولایت آمده بودند نیز اشتراک داشتند میدان اول این مسابقات دو مقابل صفر به نفع تیم کندز پایان یافت وتصور میگردید که تیم فوتبال کندز برنده این مسابقات شود اما درروند دوم این مسابقه تیم فوتبال خوست توانست دو توپ را وارد گول تیم فوتبال کندز نماید و بدین ترتیب مسابقه مساوی اعلان شد .اما کپ افتخاری مسابقات مذکور بطور تحفه به تیم فوتبال ولایت خوست داده شد .

## پنج تن مربیان به کشورآمدند

پنج تن مربی افغان از ایالات متحده امریکا وارد کابل گردیده تا به دختران فوتبالیست افغان تخنیک وقواعد جدید بین المللی بازی فوتبال را آموزش دهند عبدالصبور ولی زاده مسوول فوتبال دختران گفت: که این پنج نفر که دوتن آنان دختران میباشد هفته گذشته وارد کابل گردیدند به گفته وی این مربیان برای شصت تن دختران فوتبالست افغان سیمینار آموزشی چهار روزه را درکلوپ سپورتی اردو آغاز نموده بودند دردومین روز این سیمینار ورزشکاران عملاً درمیدان فوتبال با مربیان به تمرین پرداخته وتخنیک های جدید را که این مربیان برای ایشان تدریس نموده بودند عملاً اجراء نمودند.

## مسابقات بایسکل رانی در کابل

دومین دور مسابقات بایسکل رانی شامل هفت صدوچهل و یک ورزشکار از کابل درشهر مذکور برگذار گردید که درآن یک ورزشکار قهرمان اعلان شد این دور مسابقات از سوی شرکت های افغان بیسیم، بنیاد بیات، کوکاکولا، البرز وفدراسیون بایسکل رانی کمیته ملی المپیک به راه انداخته شده بود. ورزشکاران دراین مسابقه ازقصر دارلامان الی طاق ظفر پغمان رکاب زدند عبدالصادق رئیس فدراسیون بایسکل رانی کمیته ملی المپیک گفت که دراین مسابقات یکتن ازدختران بنام سهیلا نیز اشتراک داشت.

## دهیواد دتکواندوملي لوبډله په اسیایي لوبوکې ګډون کوي

دهیواد دتیکواندو ملي لوبډله دا مهال په تایلنډ کې دي دهیواد دالمپیک دملي کمیټې دخبرله مخې په هغه هیواد کې دتیکواندو داسیایي لوبو په اولسم دور کې برخه اخلي دالوبې داپریل دنولسمې نیټې څخه پیل او د اپریل ترشپږویشتمې پورې دتایلنډ مرکز بنکاک ښارکې دوام لري دهیواد دالمپیک دملي کمیټې ویاند وایي دافغانستان دتیکواندو ملي لوبډلې په نور سیمیزو سیالیوکې هم ښې لاس ته راوړنې درلودلي دي.

## توزیع تحایف برای شطرنج بازان

برای قهرمانی شطرنج جوانان ونوجوانان روز یکشنبه هفته گذشته مدال ها وتحایف از طرف فدراسیون شطرنج کشور اهداء گردید این مسابقات که از تاریخ ۲۴ حمل آغاز گردیده بود مدت یکهفته ادامه یافت که درنتیجه حفیظ الله دربخش جوانان ومحمد ضمیر در بخش نوجوانان حایز مقام های اول گردیدند این مسابقات که با شرکت پنجصد تن از شطرنج بازان سراسر کشور آغاز گردیده بود به ترتیب حفیظ الله، ذبیح الله ونعمت الله مقام های اول ، دوم وسوم دربخش جوانان ازآن خود کردند همچنان به همین ترتیب ضمیر ، جمشید واحمد رامین دربخش نوجوانان حایز مقام های اول، دو م وسوم گردیدند برای شطرنج بازان برتر ازسوی فدراسیون شطرنج تحایف ، تحسین نامه ها وکپ ها اهداء گردید به همین گونه میر عزت الله مربی برتر شناخته شده وحایز کپ افتخاری گردید.

## تدویرسیمینار برای ترینران

ریاست تعلیم وتربیه وزارت داخله سیمینار چهار روزه یی را درمورد حکمیت وآموزش ترینران تکواندو سبک ITF را ه اندازی کرده بود دراین سیمینار ۲۸ تن از مربیان این روزش از سراسر کشور شرکت نموده بودند مسوولان ITF هدف از تدویر این سیمینار را آمادگی ورزشکاران وحکمان برای شرکت د رمسابقات قریب الوقوع سویس خواندند، هدف از این سیمینار آگاه ساختن مربیان از قوانین جدید سبک ITF میباشد یکی از اعضای این فدراسیون میگوید قرار است عنقریب مسابقات جوانان ونوجوانان آغاز گردد موصوف افزود غرض از تدویر این مسابقات آماده ساختن ورزشکاران ومربیان برای شرکت در مسابقات سویس میباشد که ورزشکاران افغان دراین مسابقات دعوت شده اند .

حال میتوانم به رویا های خود اعتماد کنم.

دریافت و ارسال پول در طی چند دقیقه محدود به سراسر دنیا.*

WESTERN UNION

انتقال پول

- ضرورت به حساب بانکی نبوده و دریافت کننده مکلف به پرداخت هیچ نوع فیس نمی باشد.
- شما میتوانید از ۱۹۵ کشور پول دریافت و یا به آن ارسال نمائید.
- این خدمات در بامیان، غزنی، حیرتان، هرات، اسلام قلعه، جلال آباد، شهر کابل، قندهار، خوست، کندز، مزارشریف و زرنج موجود است.

* تابع اوقات فعالیت نماینده گی های دریافت کننده میباشد.

کابلبانک
KabulbanK

۰۷۹۹۵۸۰۴۴۴ / ۰۷۰۲۹۹۲۴۱
۰۷۹۹۲۷۰۰۱۹ / ۰۷۰۲۷۰۰۱۹

# د شخړې په مهال خوست کې یوتن وژل شوی

د خوست ښار ختیځه برخه کې پرون سهار دیو لړ خپل منځی تربګینواو دښمنیو له امله د دووقومونو ترمنځ وسله واله نښته وشوه چې په پایله کې یو تن ولسي وګړی مړ او څو تنه نور ټپیان شوي دي. د خوست پولیسو د پېښې په اړوند څو تنه له دواړو لوری نیولی اواوس مهال یې شخړه پای ته رسولې ده.

# دوه مړه او څو ټپیان

دسمنګانو په ولایت کې دځمکی پرسر پریوې راپورته شوی شخړه کې دوه تنه مړه او څو تنه ټپیان شوی.

دسمنګانو والي عبدالحق شفق دپژواك خبري اژانس ته ویلي چې ددی ولایت دخرم ښار باغ په ولسوالی کې دتره دزامنو ترمنځ دځمکی پرسر پریوې وسله واله نښته کې له دواړو خواوڅخه دوه تنه وژل شوی.

خبر زیاتوی په نښته کې دواړو خواوو سپکی وسلې کارولې دسمنګانو والي داهم زیاته کړی چې سیمی ته یی امنیتي ځواکونه لیږلې.

# سږ کال به شپږ سوه زره کډوال ...

په کابل کې دکډوالو دنړیوالی اداري ویاند نادر فرهاد بي.بي.سي ته وویل: یاد شوی اداره سږکال د ۴۰۰ زره راستانیدونکو کډوالو لپاره دمرستو چمتووالی لري دهغه په وینا دسږ کال له پیل څخه نږدی ۴۰۰۰۰ کډوال راستانه شوی دی. فرهاد وایي راستانیدونکوکډوالو سره ددغي اداري له لوري له څلورو ډالرو نیولي تر ۳۷ ډالره مرسته کیږی او دخوراکي توکو پرځای ۱۲ امریکایي ډالره ورکول کیږی دغه راز ملګری ملتونه نیت لري چې د ۱۵۰ زره کورونو دجوړولو لپاره داړتیا وړمواد برابرکړي. دغه کورونه په دبي وزلو کډوالو لپاره وي.

دملګرو ملتونو دکډوالو داداری په وینا تیر کال افغانستان ته ۵۰۰ زره افغان کډوال راغلی وو سږ کال په پام کې ده چې ۶۰۰ زره نوره افغان کډوال خپل هیوادته راستانه شي.

# وکیلان په خپلو منځو ...

ښځینه وکیلانوته دنو موړی کوابن پروړاندې دجرګی مشریونس قانونی بیا داسی وویل: زه تاسو خویندو ته ډادورکوم چې انشاء الله ستاسو دحقونو ددفاع او دحرمت دی تولو لپ ږدبه موږ تول اوږه په اوږه کار وکړو. تاسوډاډه اوسی موږ تول دیوی کورنی د غړو حیثیت لرو

که څه هم چې تاکل شوی وه چې دسه شنبی په ورځ به دولسي جرګې غړې دستړې محکمې دچارواکو دتحصیلی اسناد و پرسر یوی پریکړې ته رسیږې څوپه جرګه کې دنوموړ نـ اندریزو بحثونو له کبله غونډه پرته له کومه پایلې پای ته ورسیده

# ملت کسانی را که از اعتماد آنان ...

وتاکدام اندازه برزخمهای ناسور مردم مرهم گذاری میکنید!

باید یادآور شد که شورای ملی ازیکسو با یک اداره ء ضعیف وازسوی دیگر با خودخواهی ها واضافه رویی ها وعقده های فروکوفته وکاربرد مشت وبوتل وچپلک برخی از وکلاء چگونه خواهد توانست مسایل مبرم ملی وهزاران مشکل کشور و مردم را حل وفصل کند وبرآن تصمیم بگیرد؟

وپرسش دیگر اینکه چرا هیأت اداری برای آن وکلایی که بدون تحمل وبردباری وبرخوردهای اهانت آمیز، بازاری، دوراز اخلاق انسانی وغیر عاقلانه را انجام میدهند واحساسات ملت را جریحه دار میسازند، درطرزالعمل داخلی شورا، مواد تحذیری ومجازاتی را طرح وپیشنهاد نمی کنند؟

ملت آنانی را که میخواهند با بی مسوولیتی وعدم آگاهی ازاصول پارلمانی تخطی و تخلف ورزند، هرگز نمیخواهند از نام آنان نمایندگی کنند وبه نام وکیل آبروی ملت را به باد فنا دهند!

وکیل، شخص مافوق همه مافوق قانون ومافوق ملت نیست وحق ندارد هرکاری دلش میخواهد ، بکند، او مانند، همه دربرابر قانون مسوولیت ومکلفیت دارد.

مردم نمیخواهند «خانهء ملت» محل تکفیر اشخاص وتحذیر مفکوره ها وتهدید ارزشها باشد، آزادی این تالار نامحدود وبالاتر از حوصلهء قانون وملت نیست، آزادی این تالار نباید مجال بدهد که ارزشهای ملی. اسلامی و وطنی ما پامال ودستخوش تخطئه وتوطئه گردد.

باید پذیرفت که وکیل یک شخص عادیست ، تنها اعتماد ملت ازو شخص برتر وبا صلاحیت تر ساخته است، با چنین وضعیت دور از اخلاق وآداب ، ملت هرگز به کسی که ازین اعتماد استفاده سوء وناجایزکند، اعتماد نخواهد کرد وآنرا سزاوار نمایندگی اش نخواهد دانست.

اراده
زیرنظر هیات تحریر انتشار میابد
موسس وصاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: سهراب دیدار
اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
آدرس: پروان مینه (ایستگاه سینمای بهارستان سرک مسجد حاجی میر احمد خانه نمبر۹۵)
موبایل: ۰۷۰۲۲۲۷۲۶
ERADA Daily
روزنامه آزاد وملی نشریه مرکزنشراتی افغان
اندیشه وعقاید مطرح شده ازسوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوز و دیزاین: انجینیر محمد جمیل "امیری" و سبحان الله "داودزی"
چاپ: مطبعه مرکزنشراتی افغان
قیمت یك شماره ۳ افغانی
Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor:Suhrab Didar ( Mobil phone :070222726)
eradadaily@hotmail.com
eradadaily@yahoo.com